# دوه امپراتورانو ترمنځ دښمني

## لنډه کیسه



Ketabton.com

عبدالرشید"صمد نجاب"

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم ط

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه امپراتورانو ترمنځ دښمني

***** لنډه کیسه *****

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرلیک:** **دوه امپراتورانو تر منځ دښمني * لنډه کیسه ***

**لیکنه:** عبدالرشید"صمد نجاب"

**ترتیبوونکی:** ارسلان همت

**پښتي ډیزاین:** ارسلان همت

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه امپراتورانو ترمنځ دښمني:

ۀ نه ۀ، ډېر پخوا پخوا په دوه لېرې پرَتو سيمو کې دوه امپراتورۍ وې. . .

چې د دې دوه امپراتورېو امپراتورانو تر منځ سخته دښمني وه!

هر امپراتور به د خپلې سيمې او قلمرو د پراختيا لپاره په نورو سيمو يرغل کاوُه او . . .

د خپلې امپراتورۍ ساحې به يې پراخَولې.....!

دواړو امپراتورانو د خپل ځواک او واک ښودلو لپاره يو پر بل به يې هم يرغل کاوه.

د دوه امپراتورانو تر منځ هم ډېرې جګړې پېښې شوې وې؛



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کله یو امپراتور او کله به بل امپراتور په جګړه کې بریالی ؤ،

په بېلابېلو سیمو کې کله به یو ګټونکی ؤ، او کله بل؛



**خو دواړه پوهېدل چې په جګړه کې هیڅوک ګټونکي ندي بلکې دواړه خواوې باېلونکې دي.**

یو ځل ناڅاپه!

د یوې امپراتورۍ امپراتور ډېر ناروغ شي او دا ناروغي یې د مړینې (مرګ) لامل شي!

(یو امپراتور په خپل مرګ مړ شي).

. . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې بلې امپراتورۍ دربار ته دا خبرتيا را ورسيږي. . .

وزيراعظم، وزيران، عسکري او د جګړې مشران او کوماندانان (قوماندانان)

ټول د دې خبر په اورېدو سره ډېر خوښ او خوشحاله شي،

په دربار کې ډېر شور ماشور شي او ټول هڅه کوي چې دا خبر ژر امپراتور ته ووايي:

امپراتور د خپلې ځانګړې کوټې (خونې) څخه راووت او پر خپل تخت

کېښناست!

وزيراعظم په ډېرې خوښۍ، ورين تندي او خوشحالۍ سره امپراتور ته يې

وويل:

زما باداره! يو ښه خبر تاسو ته لرم، بايد مېلمستياوې او جشن ونيسو،

ستاسو کلک او سخت دښمن مړ شوی دی؛ ؛ ؛ ؛ !

امپراتور د دې خبر په اورېدو سره هيڅ خوښ نه شي او په سوچ او فکرونو کې ډوب شي. . . !

ټول په تمه درباريان ډېر حېران شي چې ولې امپراتور د خپل کلک او سخت

دښمن په مړينه (مرګ) خوښ نه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزیراعظم له امپراتور څخه وپوښتل:

زما باداره! ولې تاسو د خپل سخت او کلک دښمن په مرګ خوښ نه شوئ؟؟؟

هوښیار امپراتور په ډېرې ځیرکتیا سره ځواب ورکړ:

نن چې هغه له دې فاني نړۍ څخه یې سترګې پټې کړې، سبا زما وار دی، زما مرګ هم را رسیږي زه به څنګه د هغه په مړینه (مرګ) خوښ شم؟ آیا ما ته له هغې نړۍ څخه کوم فرمان او خبر راغلی چې زه به تل تر تله ژوندی پاتې کیږم؟؟؟

پدې نړۍ کې هر څه یو پېیل او پای لري، شاه او ګدا ټول مري، آن زما په شان پاچاهان او امپراتوران هم مري، امپراتورۍ یې ړنګیږي او هر څه پای ته رسیږي. **الله** (جل جلا له) ته به یو په یو زه او زما هغه مړ شوی ورور (مړ شوی امپراتور) حساب ورکوو.

**یوازې الله (جل جلا له) دی چې تل تر تله ژوندی او باقي ؤ، دی او وي به.**

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چــــا چې عُمـــــر پوره شـــــي**

**دلـــــته يې خــــتمه ننـــــداره شـي**

**نه ګــوري ځـــــــــوک او ځـــنګه**

**د ملک الموت بيـا چې اُجــوره شي**

*** * ***

مونږ او تاسو، زمونږ مور او پلار، زمونږ مړي او ژوندي دې **الله** (جل جلا له) وبښي. ټول مسلمانان دې **الله** (جل جلا له) وبښي. ټول بشريت دې **الله** (جل جلا له) وبښي.

تاسو درانه، د قدر وړ او هوښيار لوستونکي د دې لنډې کيسې په لوستلو مه ناهيلي کيږئ! يو متل دی که خبره ده چې خلک وايي: "نړۍ (دنيا) په هيلو خوره شوې ده." تاسو بريالي اوسئ!

په ژوند کې ځينې پيښې سخت زړه ماتوي، په انسان ډيره زياته اغېزه کوي. خو ژوند ته بايد دوام ورکړو **الله** (جل جلا له) به هر څه سم کړي. څه چې انسان او مسلمان ته د **الله** (جل جلا له) له لوري ټاکل شوي او مقرر وي هغه ورته رسيږي.

له تاسو ټولو څخه ډيره زياته مننه!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**